# ملا محمد عمر اخوند



ملا محمد عمر اخوند

ملا محمد عمر په ۱۹۵۹م کال د کندهار ولایت د خاکریز په اولسوالي کي زېږېدلی دئ.

کله چي شورویان افغانستان ته ننوتل نو ملا محمد عمر د نورو مجاهدینو په شان د شورویانو د یرغلگرو ځواکونو پر ضد په جهاد لاس پوري کړ.

داسي ویل کیږي چي د جهاد په دوره کي څلور ځله زخمي سوی دئ. څه موده وروسته ئې د پاکستان په یوه اسلامي مدرسه کي د اسلامي زده کړو په لوست پیل و کړ. له افغانستان څخه د شورویانو تر وتلو وروسته په هیواد کي د مجاهدینو د مختلفو گوندونو او ډلو له خوا غیر انساني او غیر اسلامي نا خوالي را منځته سوې. د دوی دغه کار ملا محمد عمر




بیا دې ته اړ کړ چي خپل جهادي ملگري سره را ټول کړي او د ټولو نا خوالو پر ضد و دریږي. دوی خپل دغه نوی تحریک د طالبانو په نامه و نوماوه.

په ۱۹۹۶م کال کي د سختو جگړو په نتیجه کي ئې د افغانستان ۹۵-۹۰ په سلو کي خاوره په لاس کي لرله. دا چي پخوانیو جهادیانو د طالبانو په وړاندي مقاومت و نه سوای کړای، ځکه ئې هیواد پربښود.

د طالبانو دغه حکومت یوازي یو څو هیوادو لکه: سعودي عربستان عربي اماراتو او پاکستان، په رسمیت و پېژاند، خو لوېدیځو هیوادو او امریکا په رسمیت و نه پېژاند.

په دغه دوره کي په هیواد کي امنیت ډېر ټینگ وو؛ د ده د حکومت په دوره کي د هیواد چاري د اسلامي شریعت پر اساس مخته تللې.

قاتلان (وژونکي) قصاصېدل، د غلا جزا د غلا سوي مال له اندازې سره سم د گوتي او یا لاس پرېکېدل ول. په هیواد کي د مخدره موادو استعمالول او کښت بند سول.

حکومت ئې د افغانستان د اسلامي امارت په نامه و نوماوه.

ملا محمد عمر ته د خپلو پلویانو له خوا د امیر المومنین لقب ور کړ سو .

طالبانو ته یو ټوټه ټوټه او پر سینه پروت افغانستان په لاس ورغی . نه بانک وو نه تجارت، مکتب نه وو پاته ؛ نه اداره وه ، نه مېز او نه چوکۍ . دغه څو کاله دوی په ډېر مشکل خپله اداره پر مخ وړه .

په ۲۰۰۱ م کال کي چي په امریکا کي د نړۍ د سوداګرۍ مرکز را و نړېد نو د امریکا حکومت دا کار د القاعدې له خوا و باله او داسي ئې ویل چي د دې حرکت مرکز په افغانستان کي دئ .

د دې لپاره چي امریکایان د القاعدې دغه مرکز له منځه یوسي . له طالبانو ئې و غوښتل چي د القاعدې مشر (بن لادن) دې امریکایانو ته و سپاري . طالبانو د افغاني دود له مخي له دې کاره ډه ډه و کړه . همدا کار دلیل سو چي امریکایانو پر افغانستان حمله و کړه او د طالبانو حکومت ئې د ۲۰۰۱ م کال د اوکتوبر په میاشت کي له منځه یوور . تر دې وروسته ملا محمد عمر په یوه نامعلوم ځای کي ژوند کاوه .

د طالبانو د رژیم تر ړنګېدو وروسته بیا ملا محمد عمر چا و نه لیدی، څو هغه وو چي په ۲۰۰۴ ل کال د اسد پر ۷ مه نېټه د افغانستان د ملي امنیت له خوا د ده د مړیني خبر خپور سو . تر ده وروسته ملا منصور اخوند او تر هغه وروسته بیا ملا هیبت الله اخوند د طالبانو د امیرالمومنین په توګه و ټاکل سول .

**پوښتني :**

۱ ـ سربېره پر دې چي هیواد د مجاهدینو په لاس کي وو نو ولي ملا محمد عمر بیا په سیاسي فعالیت پیل و کړ ؟
۲ ـ د ملا محمد عمر اخوند په وخت کي د افغانستان کومي برخي د طالبانو په لاس کي ولوېدلې ؟
۳ ـ د ملا محمد عمر اخوند په وخت کي په ټوله هیواد کي امنیت ډېر ټینګ وو . تاسي و وایاست چي د دې کار دلیل څه وو ؟
۴ ـ ولي امریکایانو د طالبانو واکمني له منځه یوړه ؟

لیکونکی : عبدالعلي رسولزاده
alirasulzada@hotmail.com
www.pashto.se
0046709384755